مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند
۲۰۱۹/۰۴/۰۴

# یو شاعر، یو بادشاه

## «زما د ډېر ځېلي قام بادشاه خبره واوره!»

(څو شېبې له شاه نواز باقر سره)




ګوتــې مې د لسو نــه يــوولس شوې
دومره مې وعدې د چا شمارلي دي

غسل مې د اوښکو ورتــه ورکړلو
تــا چې کوم خــطونه رالېږلي دي

تــږی بــه په ټول عمر کې نه شمه
ستا د بــيـلـتانه زهر مې څکلي دي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

شاه نواز باقر د پښتو ژبې ځوان شاعر دی، د خپل عمر په درېیمه لسیزه کې ژوند کوي، د تاند د رپوټ له مخې:
«شاه نواز باقر په ۱۹۹۴ کال کې زېږېدلی او اصلاً د ننګرهار ولایت د هسکې مېنې ولسوالۍ اوسېدونکی دی چې دا وخت د پښتونخوا په کوهاټ ولسوالۍ کې ژوند کوي.»

باقر په دې لږ عمر کې داسې شاعري کوي چې د کلماتو په پېلو کې د جادو تر بریده رسېدلی دی، کلمات داسې ښنګ په ښنګ سره ږدي او سره پېيي یې چې لوستونکي ورته هک حیران شي. باقر د ګل و بلبل او ظاهري مینې شاعر نه دی، دی په ریښتیا د خلکو په درد خوږ او د ټولنې له نیمګړتیاوو نه با خبره دي او دا هر څه په خپل شعر کې په هنرمندانه ډول انځوروي او ځلاري ورته ښيي.

د شاه نواز باقر د ژوند او شاعرۍ په باب تر اوسه د نظر خاوندانو او منتقدینو دومره څه نه دي لیکلي، یوازې څو خواره واره توصیفي نظریات، یوه نیمه مقاله او د شاه نواز باقر د ژوند او شاعرۍ په باب د دوو مونو ګرافونو سرلیکونه زما له نظره تېر شوي دي:

ـ په ۱۳۹۵ کال کې د سید جمالالدین افغان پوهنتون فارغ ښاغلي رحیم الله هجران له خوا د «شاه نواز باقر ژوند او شاعري» تر سرلیک لاندې یو مونو ګراف لیکل شوی،

ـ په ۱۳۹۶ کال کې د کندهار پوهنتون فارغ اسدالله خادم له لورې د «د شاه نواز باقر په اشعارو کې مردفه قافیه» تر سر لیک لاندې مونوګراف تحریر شوی دی.

مګر اشعار یې په ډېره پیمانه په ټولنیزو شبکو او ویبساتونو کې خپاره شوي دي.

تر هغې اندازې چې د باقر شعرونه زما له نظره تېر شوي دي ما په خورا مینه لوستي دي، او د هغو له لوستنې نه په لنډه توګه ویلای شم چې:

د باقر شاعري د ده له عمر نه وړاندې پل ایښی دی او ډېر ښه یې هم ایښی دی، ښه مظبوط او استواره پل اوچتوي. باقر خپل فکر د داسې تورو او کلماتو په لوښو کې له نویو تشبیهاتو، استعارو، کنایو، تخیل او تخییل سره وړاندې کوي چې د تکرار څرک یا په کې نه شته او که چېرې وي هم، ډېر به لږ او په نشت حساب وي. که په همدې ډول پرمخ ولاړ شي، زه ډاډه یم چې په اوسنۍ پښتو شاعرۍ کې به له تورو نه نوې او ښکلې مانۍ اوچتې کړي او نوی ریکارډ ټینګ کړي.

ما په ۲۰۱۶ کال کې د باقر د یو بیت:

**«کـورجـوړوم پـه کې کرم د قلـمونـو ونې**
**کور جوړوم ورته راوړم د کتابـونـو ښځې»**

له یو بیت نه په الهام سره د **«کور جوړوم نـښلـوم د نـــوي نــسل کــــــــړی»** تر سر لیک لاندې یو شعر ولیکه او همانغه وخت مې خپور کړ.

د شاه نواز باقر ملګرو، همځولو او همفکره انډیوالانو، د ده په توصیف کې په ټولنیزو شبکو کې ډېر څه لیکلي دي چې دی له هغه نه هم په ډېرو ارزي. د ښاغلي انجنیر ستانه میر زهیر په قلم مې یوه لیکنه چېرې تر سترګو شوه چې د باقر د شاعرۍ په باب یې خپل نظر څرګند کړی و. د هغې لیکنې په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«زما په نظر باقر په کم عمر کی د ستری مشاهدی ښښتن دی ، طبعیت ته په خورا ځیرکۍ ګوري ، ناخوالی او خوښی دواړه تری را اخلي او بیا تری دخپل شعر امیل په داسی هنري انداز کی جوړوي چی په لوستلو یی ورته ، ډیری نوم وتلي شاعران ګوته په غاښ پاتی دي .

د شهنواز باقر د شعر یو کمال دا هم دی چی هغه په خپل شعر کی ، دېخوانیو شاعرانو کلیشه او سولیدلی کلمی پاس په تاخچه ایښي دي ، هغه چی هرڅه لیکي په نوی ښه یی لیکي ،اوس خو درویشت کلن ځوان دی ، نه پوهیږم چی په پاخه عمر کی به ، د حمزه بابا په پل به پل کیږدي او که یو ګام به تری مخکی لاړ شي، دا قضاوت به د باقر راتلونکی ته پریږدو.»

بیا مې د ښاغلي خالد حافظ د باقر د شاعرۍ په باب څه له نظره تېر شول. هلته داسې ویل شوي و:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«دباقر شعر خپل یو خاص جذبه ا ځانګړي احساس لري چي اوریدلي یي دهر چا په زړونو باندي منګولي خښوي،باقر مي دشعر په نړۍ کي خاص ملګري دي،با وجود ددېظ چي دده ښه شاعرۍ او شعر یي زما په زړه کي بلکي دټولو د ادب دمینوالو په زړه کي خاص ځای خپل کړی...

ددي شعر او دده عمر چي څوک ترینه خبره نه وي یا چا خپله نه وي لیدلي،نو هیڅ باور نکوي چي پدي کم عمر کي دي یو څوک داسي پنځوني او دملغلرو په شان بیتونه دي ویلي وي دده خاص استعداد او لایقات دده یوه مهمه ځانګړنه ده.

شهنواز باقر که څه هم ځانته د غزل سر لاري نه وایي،خو مونږ ورته دخداي ج نه ددي کاروان دسر لاري کیدلو هیله کوو،باقر ځوان ګل تازه غوړېدلي غوټۍ ده ...»

زما د مالوماتو له مخي شاه نواز باقر تر اوسه دوې شعري ټولګي خپرې کړې دي:

**ـ د هوا سترګو کي شګي،**

**ـ پنځم موسم.**

«د هوا سترګو کي شګي» نومي ټولګي یي د ۱۳۹۶ کال کي غوره مطبوعاتي جایزه هم ګټلي ده. په هغه وخت کي تاند داسي لیکلي وو:

«تاند – ځوان شاعر شاه نواز باقر د خپلي لومړۍ شعري ټولګي «د هوا سترګو کي شګي» په پنځولو سره د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ۱۳۹۶ کال غوره جایزه وګټله.»

ما د دې لنډې خپرني په پای کي د شاه نواز باقر د کلام داسي بېلګه درنو لوستونکو ته غوره کړې ده چي دی د هېواد له واکمن بادشاه (رئیس جمهور) سره غږېږي، د ولس او ټولني ستونزې ورته بیانوي او د دردونو د مداوا هیله ورنه کوي.

ما دا شعر د ده په خپل غږ کي د دکلمي شوي ویډیو له مخي لیکلی دی، که چېرې کومه وړه تېروتنه رانه شوې وي، لومړۍ له ښاغلي شاه نواز باقر نه بښنه غواړم او بیا له درنو لوستونکو نه. دا هم شعر:

## زما د ډېر ځېلي قان بادشاه خبره واوره!

د خــپـل بـې وسـه وطــن، بـیـا تــاتــه اخـتـیــار درکوو
واک د خــپــل کــلـي د رکــوو، هــم یـې د ښـار درکوو
حــقــدار دې بــولــو، بـیـا پــه لاس کـې اقـتـدار درکوو
د یــو بــدلــون پـــه صـداقـت لــوی افـتـخـار درکوو
درپـــسي ځـــــو روان یــــو، لـقــب د ســالار درکوو
رســی د عـــدل و د انـصـــاف تــا تـــه د دار درکوو
د حــوصـلـي دوا اوس هــم لــکــه بــیـمــار درکوو
د مــیــنـي حــق دی، درجــه درتــه د پــلار درکوو

## باچا خبره واوره!

## زما د ډېر ځېلي قام بادشاه خبره واوره!

پــر دي سـپـیــڅـلي مـقـدسـه خـــاوره جـنـګ ولــي دی؟
د دي حـــالاتـــو پـــه قــفـس کـي ولس تــنـګ ولــي دی؟
د دي ښـایـسـته وطـن تـصـویـر داسي بـدرنګ ولـي دی؟
د هــر سړي لاس پــه دي خپلو ویــنـو رنګ ولــي دی؟
هـــر یــو وګړی د دي وران وطـن مـلـنـګ ولــي دی؟
د مـحـــبـت نــه د نـفرت قـــد دومــره دنـــګ ولـي دی؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د هـر سرې سره د خوف سيورى تر ښنګ ولـې دى؟
د قـلـمـونــو څـوكـو كړى دومـره زنـګ ولـې دى؟
پـر دې سپـيـڅلي مـقـدسـه خاوره جنـګ ولـې دى؟

## زما د ډېر ځېلي قام بادشاه خبره واوره!

ستـا پـــه ځــولــى كـې اچـــوو د امــيــدونــو تخم
درنـــه ضـايـع نـــه شـي زمـوږ د ارمـانـونو تخم
په هـر يـــو ذهـن دى راخـور ستـا د فـكـرونــو تخم
كــروو بـــه ځـمـكـه د احـسـاس د اُلـفـتـونو تخم
ستـا پـــه ځـولـى كـې اچـــوو د امــيـدونــو تخم
لـرې كـول غـــواړو لـــه دې ځــاى د اورونــو تخم
هـر ځــوک راوړي دلـتـه د خـپـلو مـذهـبـونو تخم
لاسو كــې شـيـنـدو لا د امــن د ســوالــونــو تخم
پـــه هـــر يـــو فـكـر دى راخور ستا د فكرونو تخم

## زما د ډېر ځېلي قام بادشاه خبره واوره!

پــه تـــورو وريـــځــو كــې د جنګ پټ اسمان د امن
پــر ځــمــكــه جوړې كـړې كوترې ماشومان د امن
وربــانــدې پـښي كـېـږدې د پـاسـه دښـمـنان د امن
قسم پـه خـداى لـه تـنـدې مـرو نـه شـتـه بـاران د امن
يــوړه لــه ځــانـسره هــر چـا ګــور تـه ارمـان د امن
پـــه تـــورو وريـځــو كـې د جنګ پـټ اسمان د امن
چـې ړدي نــومــونـــه پـه بـچـو اوس افغانان د امن
تـــه ورتـــه وكـړه پـــه غـــوږونـــو كــې آذان د امن

## زما د ډېر ځېلي قام بادشاه خبره واوره!

دا پـــه مــرمـيـو سوري شـوي دېـوالـونـه ګورې؟
دا پـــه بــاروتو سـوزيـــدلـې، مـكـتـبونـــه ګورې؟
د بېـګناه خلـكو پـــه پـښو كـې ځـنـځـيرونه ګورې؟
د چـا لـــه وېـرې نـه بند شـوي، مـكـانـونـه ګورې؟
پـــه هديرو كـې د ژونــدو خلـكو، قـرونـــه ګورې؟
زخـمـي سجدې او شـهـيـد شوي جوماتـونـــه ګورې؟
د خــپــل ولس پـــه ډكـو ستركـو كـې سوالونه ګورې؟
پـــه دې ســوالــونــو كـې دنـنـه ځـوابـونـه ګورې؟

## زما د ډېر ځېلي قام بادشاه خبره واوره!

د دې نـظـام تـكـميل پـه كار دى، بل نظام په كار دى
د دې تــيـارې خــلاف بـاچـا جدي اقدام پــه كار دى
د دې سـپـېـڅـلي خـاورې قـدر احـتـرام پـــه كار دى
د نـفـرتـونــو، د جـنـګـونـو قـتـلِ عـام په كار دى
د جـهـــالــت او انــتـشــار نـــه انـتـقـام پـه كـار دى


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همكارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولئ

داسي رهبر چې وي صادق، زمونږ د قام په کار دی
د ولس خـوب نــه شته بـاچا د دوی ارام پــه کار دی
مـبـارزې تـــه خـو دې اوس ایـلــه دوام پــه کار دی

**زما د ډېر ځپلي قام بادشاه خبره واوره!**

**د دې وران شوي وطن درد خپل کړه احسان به دې وي**
**که چېرتـه لاړې د نـجـیب غـونـدې ارمـان بـه دې وي**

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیړلو مخکي په ځیر و لولـئ